مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د تلې اوومه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۲۹مه | ۴۳۵مه گڼه

# ولسمشریزې ټاکنې؛

## د تېرو ټاکنو په پرتله د خلکو گډون په ځلونو کمرنگه و



۳

ټاکنې، کم گډون، لاملونه او پر مشروعیت یې اغېز
۲ مخ

له صندوقه نیولې د پایلو تر اعلانه؛ د افغانستان په ټاکنو کې د یوې رایې سفر
۲ مخ

تشهیر
۵ مخ

## د بشري حقونو کمېسیون: زرگونه زندانیان د رایې اچونې له حق څخه محروم شوي

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي، د کابل په زندانونو کې په زرگونو خلک د خپلې رایې د کارولو له حقه محروم شوي دي.

د یاد کمېسیون پر ټویټر پاڼه راغلي، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د کابل په ځرخي پله زندان او دغه راز په دغه ښار کې د ښځو په زندان کې د ټاکنو پر نه تر سره کېدو اندېښمن دی.

د بشري حقونو کمېسیون ویلي، د دوی د ناظرینو د معلوماتو له مخې، په ځرخي پله زندان او د کابل ښار د ښځو په زندان کې ټاکنې نه دي تر سره شوې.

دغه کمېسیون ویلي، په ځرخي پله زندان کې ۱۱ زره او د کابل ښار د ښځو په زندان کې ۲۵۰ ښځینه زندانیانې موجودې دي چې د رایې ورکولو له حقه محرومې شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم پر ټاکنو څارونکو بنسټونو په ټاکنو کې د خلکو پر کم رنگه گډون او د ځینو نورو په محرومېدو خواشیني ښودلې ده. دوی ویلي چې ډېرى دغه ستونزې نه یوازې په ولایتونو، بلکې په کابل کې هم وې.

د یادونې ده چې تېره ورځ په ټول هېواد کې د ولسمشرۍ ټاکنې تر سره شوې چې د امنیتي اړخه کومه جدي ستونزه پکې رامنځته نه شوه.

## په ولسمشریزو ټاکنو کې د ځینو ستونزو له کبله د ښځو گډون کم و



۲ مخ



۴ مخ

## بایزید روښان د لوړو زده کړو موسسه

د بایزید روښان د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، په دې موسسه کې د تدریس چارې د ۴۹ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې ۲۰ یې دایمي او ۲۹ یې بیا قراردادي استادان دي.





## د خوست ملکي روغتون ته څلور انتظارخونې جوړې شوې دي



د خوست په ملکي روغتون کې د ۲۸ میلیونو افغانیو په لگښت، جوړې شوې څلور انتظارخونې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د خوست والي محمد حلیم فدایي پژواک ته ویلي، د دې خونو په جوړېدو سره هغو پایوازانو ته د سرپناه زمینه برابره شوې، چې له ناروغانو سره به یې په بسترخونو کې یو ځای شپې تېرولې.

د نوموړي په خبره، یادې انتظارخونې چې ښځې او سړي دواړه ترې گټه اخیستلی شي، په عصري او مجهز ډول جوړې شوې دي. په ورته مهال د خوست د عامې روغتیا رییس ډاکتر حبیب شاه انصاري پژواک ته ویلي، مخکې له دې پایوازانو د لرگیو له تختو جوړې یوې وړې کوټې څخه گټه اخیسته چې اصلاً مناسب ځای نه و. په همدې حال کې د خوست په ملکي روغتون کې د ناروغانو پایوازان هم وایي چې مخکې له دې یې د ناستې او شپې تېرولو لپاره مناسب ځای نه درلود، خو اوس یې دا ستونزه حل شوې ده.

## برخی رای دهنده گان واجد شرایط به دلیل حذف نام شان از رای دهی محروم شدند




برخی ها که تذکره های شان برچسب مخصوص شرکت در انتخابات نیز دارد، می گویند که حین مراجعه به مراکز رای دهی، مسئولان به آنها گفته اند که نام شان از فهرست رای دهنده گان حذف شده است.

به اساس یافته های آژانس خبری پژواک؛ شماری از رای دهنده گان به خاطر حذف نام شان در دستگاه های بایومتریک، از دادن رای محروم شدند.

ذکی دریابی، تصویری را در صفحه فیسبوک خود منتشر کرده است که نشان می دهد شخصی به نام رحمن، به دلیل حذف نامش، از رای دهی محروم شده است.

نیلوفر مرادی یک تن از کاربران فیسبوک؛ عکس دستگاه بایومتریک یکی از مراکز رای دهی را نشر کرده است، که نشان می دهد شخصی به نام محمد افضل نیز از حق رای دهی محروم شده و نام او حذف گردیده است.

مرکز رای دهی در لیسه بی بی رابعه در ناحیه چهارم شهر کابل، یکی از مراکزی است که این مشکل در آن وجود داشت. خبرنگار پژواک، هفت تن را در این مرکز دیده است که نام شان از فهرست رای دهنده گان حذف شده بود.

نسیمه ۴۵ ساله در این مرکز، به پژواک گفته است که قبلاً در این مرکز ثبت نام کرده و در انتخابات ولسی جرگه نیز در همین مرکز رای داده؛ اما اکنون کارکنان این مرکز به او گفته اند که نامش حذف شده است.

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

## ټاکنې، کم ګډون، لاملونه او پر مشروعیت یې اغېز

پرون ولسمشریزې ټاکنې وشوې چې حکومتي چارواکي او د ټاکنو کمېسیون غړي یې بریالۍ ګڼي. که څه هم په ټاکنو کې تخنیکي ستونزې وې، خو ناپېیلي ناظرین هم مني چې د دې ټاکنو ستونزې تر تېرو پارلماني ټاکنو کمې وې. څه چې په دې ټاکنو کې د جدي اندېښنې وړ دي او د راتلونکي حکومت پر مشروعیت اغېز کوي، هغه د خلکو د ګډون کچه ده.

که څه هم تر اوسه د ټاکنو کمېسیون او یا بل بنسټ رسمي شمېرې نه ورکوي، خو ځینې بنسټونه د ګډون کوونکو شمېره خورا کمه ښیي. ځینې سرچینې وایي چې په دغو ټاکنو کې یو اعشاریه دوو میلیونو کسانو برخه اخیستې وه، خو د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو د څار بنسټ «فیفا» اجرایوي مشر محمد یوسف رشید اټکل کوي، چې شاوخوا دوو میلیونو کسانو به په ټاکنو کې برخه اخیستې وي. پرون په ډېرو مرکزونو کې د خلکو ګڼه ګوڼه خورا کمه وه او آن په کابل کې چې امنیتي ګواښ هم نه و، کمو خلکو په ټاکنو کې برخه واخیسته.

ولې کمو خلکو برخه واخیسته؟

دلته څو لاملونه یادولی شو: لومړی دا چې خلک ټاکنې د افغانستان د ستونزې حل نه ګڼي او غوره بولي چې د ټاکنو پر ځای پر سوله تمرکز وکړي. دویم لامل دا دی چې خلک فکر کوي د دوی رایه ارزښت نه لري، بلکې تصمیم به بیا هم بهرنیان نیسي. درېیم لامل ناامني ده. ډېری خلکو د بمي چاودنو له وېرې ګډون ونه کړ او یا یې هم له دې وېرې ګډون ونه کړ چې په رنګ شوې ګوته به له ستونزو سره مخ شي. څلورم لامل دا و چې په دغو کاندیدانو کې داسې کوم پیاوړی کاندید نه و چې متفاوته تګلاره ولري او د افغانستان د ستونزو، په ځانګړې ډول د جګړې لپاره یوه کارنده حللاره ولري. له بله اړخه د ټاکنو پر کمېسیونونو هم باور نه و، ځکه تېر کمېسیونونه په درغلیو او فساد کې ښکېل وو. له بله اړخه خلکو پخوا هم په ټاکنو کې برخه اخیستې وه او دې چارې د دوی ستونزې زیاتې کړې وې، نو دا ځل یې غوره وګڼله چې په خپل لاس خپلې ستونزې زیاتې نه کړي. نور لاملونه هم وو، خو اساسي لاملونه همدا وو.

اوس پوښتنه دا ده چې د خلکو دا کم ګډون به د راتلونکي حکومت پر مشروعیت څه اغېز وکړي؟

که څه هم د افغانستان اساسي قانون پر رڼو، عادلانه او سراسري ټاکنو ټینګار کوي، خو دا یې نه ده مشخصه کړې چې که څومره خلک په ټاکنو برخه واخلي، نو مشروعیت پیدا کوي. د کم ګډون یو لامل کېدای شي دا وګڼل شي چې حکومت میلیونونو خلکو ته په ټاکنو کې د ګډون زمینه برابره نه کړه، نو په دې ډول ټاکنې د اساسي قانون پر اساس سراسري نه وې. دا چاره مخامخ د راتلونکي حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. که په کم ګډون کې د حکومت او ټاکنیزو کمېسیونونو رول یو مخ نفي هم کړو، بیا هم له یو بل مهم بحث سره مخ کېږو. خلک نور نه غواړي له دغه سیستم او حالت سره مخکې ولاړ شي. د دغو ټاکنو یو ښکاره او اساسي پیغام همدا دی. خلک نور نه غواړي چې اوسنی حالت دوام وکړي. دوی غواړي سیاستوال او حکومت پر سوله تمرکز وکړي او له همدې امله یې په ټاکنو کې پیکه ګډون وکړ. که حکومت او ملګري یې له څه کم دوو میلیونو کسانو بیا هم خپل مشروعیت اخلي او پر څه باندې دېرش میلیونه خلکو واکمنۍ ته دوام ورکوي، دا به نو د ډیموګراسۍ په نامه د استبداد او ډیکټاتورۍ واکمني وي.

# له صندوقه نیولې د پایلو تر اعلانه؛

# د افغانستان په ټاکنو کې د یوې رایې سفر

لیکنه: بي بي سي- فارسي/ ژباړه: مسیر ورځپاڼه

سره له دې چې د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو د روڼوالي لپاره له بایومټریک دستګاوو څخه ګټه واخیستل شوه، خو لاهم په دې پروسه کې ډېرې ستونزې او نیمګړتیاوې موجودې وې. دلته په دې تړاو خبرې کوو چې یوه رایه له صندوقه نیولې بیا د پایلو تر اعلانېدو پورې له کومو پړاوونو تېرېږي او کومې ستونزې پکې دي.

کله چې رایه صندوق ته واچول شي، دغه رایه یو اوږد سفر طی کوي او بالاخره د پایلې د اعلان لپاره تیارېږي. دغه راز په افغانستان کې د رایو د لېږد لپاره هم له ډول ډول لېږدېدونکو وسایلو څخه ګټه اخیستل کېږي، چې ځینې وختونه ان د انسانانو او حیواناتو پر اوږو یې وړلو ته هم اړتیا وي.

**په افغانستان کې د یوې رایې بیه!**

افغانستان له هغو هېوادونو څخه دی چې رای پاڼې یې په نورو هېوادونو کې چاپېږي او دغه څه د دې لامل شوي چې د هرې رای پاڼې قیمت هم په دغه هېواد کې د نورو هغو په پرتله ډېر لوړ شي. که څه هم د سږ کال ټاکنو د یوې رای پاڼې قیمت دقیق نه دی مالوم شوی، خو تر دې وړاندې په ۲۰۱۴ ز کال د یوې رای پاڼې قیمت ۹ ډالره ښودل شوی و.

د دغو رای پاڼو له چاپ وروسته، د ټاکنو د قانون له مخې، د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسیون اړ دی چې تر ټاکنو مخکې او وروسته د دغو پاڼو او دغه راز له نورو ټاکنیزو وسایلو څخه ناوړه ګټه وا نه خلي.

دغه راز د رایو د بسته بندي کولو، مهر او نښې لګولو، لېږد، ساتنې او د صندوقونو د پرانیستلو لپاره ځینې لارې چارې مخکې له مخکې ټاکل کېږي، چې کمېسیون باید له هغو سره سم مخکې لاړ شي. رای پاڼې ځانګړې نښې لري چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون له لوري ټاکل کېږي، څو له خلکو سره مرسته وکړي چې په اسانۍ سره ګټه ترې واخلي.

**د رای پاڼو لېږد**

چاپ شوې رای پاڼې د ټاکنو له ورځې څخه وړاندې په ټول هېواد کې له پنځو زرو زیاتو مرکزونو ته لېږدول کېږي. د دې لپاره چې له درغلۍ څخه مخنیوی وشي، نو له همدې کبله دغو مرکزونو ته د رای ورکوونکو له شمېر سره سم رای پاڼې لېږدول کېږي. دغه راز له یوه مرکزه بل ته د رایو لېږد هم بند دی.

د رای ورکونې وخت د کمېسیون لخوا مشخص کېږي او هېڅوک نه شي کولای چې له رای ورکونې وروسته، د رای اچونې مرکز ته ننوځي.

**له رای پاڼې څخه د ګټې اخیستنې طریقه**

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، چې ټول افغانان چې د رای ورکونې قانوني عمر(۱۸) کاله یې پوره کړی وي، کولای شي چې په ټاکنو کې ګډون وکړي.

د پورتنیو شرایطو په پوره کولو سره، هغه څوک چې د رای ورکونې مرکز ته ورځي، نو هلته له مسوولو کسانو څخه د رای ورکونې پاڼه را اخلي. وروسته د رای ورکونې غرفې ته ورځي او هلته له ځانګړي قلم څخه په ګټې اخیستنې کولای شي چې د خپلې خوښې وړ نوماند وټاکي. رای ورکوونکی له دې وروسته خپله رایه صندوق ته اچوي او تر هغې چې په مرکز کې د رای ورکونې بهیر پای ته نه وي رسېدلی، په صندوق کې پاتې کېږي.

**د رایو قرنتین کول**

کله چې د یوه محل یا مرکز حساس ټاکنیز توکي په ناقانونه توګه د ټاکنیزو کارکوونکو، نوماندانو، د نوماندانو د پلویانو او یا نورو نامسوولو کسانو لخوا پکې لاسوهنه وشي، نو دغه رایې نه شمېرل کېږي او له قرنتین کېدو وروسته اړوند ولایتي دفتر ته لېږدول کېږي.

**د رایو شمېرنه**

د رای ورکونې له بهیر وروسته، د مرکز یا محل ټولې رایې د څارونکو په مخ کې شمېرل کېږي. په مرکز کې د رای شمېرنې کارکوونکي اړ دي چې د صندوقونو له پرانیستلو مخکې، هغه پاڼې چې نه دي کارل شوې او یا هم ضایع شوې، مشخصې کړي او د ټاکنو خپلواک کمېسیون د طرزالعمل سره سم یې د پایلو په فورم کې ولیکي.

له دې وروسته د یاد مرکز کارکوونکي د صندوق په داخل کې پاڼې ډلبندي کوي، چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د طرزالعمل له مخې، سمې، ناسمې او سپینې رایې پکې راځي.

**د باطلو رایو تعریف**

د ټاکنو خپلواک کمېسیون له تعریف سره سم، په هغو پاڼو کې چې د رای ورکوونکي قصد مالوم او مشخص نه وي، د کمېسیون مهر او ټاپه ونه لري، د رای ورکوونکي هویت مشخص نه کړي، هغه پاڼې چې د کمېسیون لخوا نه دي وېشل شوې او یا هم د رای ورکونې پاڼه ونه لري، دا ټولې باطلې ګڼل کېږي.

دغه راز هغه رایې هم باطلې حسابېږي چې داسې څېرې وي چې د یوه نوماند معلومات پکې په بشپړه توګه له منځه تللي وي.

**د رایو له شمېرلو وروسته**

له رای شمېرنې وروسته لاسته راغلې پایلې ځانګړو فورمونو ته رسېږي، د محل یا مرکز رییس یې ټاپه کوي او له هغه وروسته د څارونکو له لوري هم تاییدېږي. خو د څارونکو او کتونکو په نشتون کې لیکل شوی راپور د مرکز د مدیر لخوا لاسلیک کېږي. دغه راز د رای شمېرنې پایلې د مرکز د مسوول لخوا په پنځو نقلونو کې لیکل کېږي او اصلي فورم یې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته لېږدول کېږي. د ټاکنو کارکوونکي یې یوه نسخه د رایې په صندوق کې پرېږدي او یوه کاپي یې د شمېرنې په مرکز کې نصبوي.

یوه کاپي یې د شکایتونو ولایتي کمېسیون ته سپاري او یوه کاپي یې هم هغه نوماند ته سپارل کېږي، چې په هغه محل کې یې تر نورو ډېرې رایې ګټلې وي.

د ټاکنو کمېسیون کارکوونکي د بایو مټریک دستګاه په واسطه د پایلو له جدول څخه عکس اخلي او دغه عکس بیا د دستګاه له لارې د کمېسیون اطلاعاتي مرکز ته لېږل کېږي.

د شکایتونو ولایتي کمېسیون اړ دی چې د غوښتنې په وخت کې د پایلو یو فورم د رای ورکونې د مرکز د څارونکو په واک کې ورکړي.

**له شمېرلو وروسته ساتنه**

د رای اچونې په مرکزونو کې له رای شمېرنې وروسته، شمېرل شوې پاڼې (سمې، ناسمې او سپینې) او نه استفاده شوې پاڼې بېرته په مخصوصو حفاظتي بستو کې داخل او وروسته د رای اچونې په صندوقونو کې داخلېږي او د ناظرینو په مخکې مهر و لاک پرې لګول کېږي.

له دې وروسته یاد صندوقونه د ولسوالۍ مسوول ته سپارل کېږي، هغه د مخصوصو حفاظتي بستو له مهر ولاک او پر هغه دې لیکلو اطلاعاتو له اطمینان وروسته، دغه بستې د ولایتي کمېسیون دفتر ته تسلیموي.

د ولایتي دفتر رییس هم له چک وروسته دغه بستې، د کابل مرکزي دفتر ته لېږي او تر پنځو راتلونکو کلونو هغلته ساتل کېږي. د پایلو پاڼې هم فوراً په کابل کې مرکزي دفتر ته لېږل کېږي.

**د رایو په ملي مرکز کې رایه**

د پایلو ټولې هغه پاڼې چې له ولایتونو کابل ته لېږل شوې وي، په کابل کې د پایلو په ملي مرکز کې سکن او له طی مراحل وروسته ډلبندي او په سیستم کې ثبت او وروسته لومړۍ پایلې د ټاکنو کمېسیون د سایټ لخوا خپرې کېږي.

د دغو پاڼو د ناسموالي په اړه تر لاسه شوي شکایتونه طی مراحل نه کېږي، بلکې له سره ارزول کېږي.

دغه ارزونه او بیا شمېرنه د ناظرینو او کمېسیون د استازو په حضور کې، د شکایتونو په کمېسیون کې شوې له ادعا سره سمه تر سره کېږي او وروسته تر لاسه شوې پایله بیا د ټاکنو کمېسیون ته د منلو وړ ده.

**د ټاکنو د پایلو اعلان**

د رای اچونې په مرکزونو کې د پاڼو ځوړندول د لومړنیو پایلو د اعلان په مانا دي، نه د نهایي پایلو په مانا.

پر دې سربېره، د ټاکنو کمېسیون په هر مرکز کې د رایو تر ډلبندۍ وروسته، اړوندې پایلې د ټاکنو کمېسیون په سایټ کې خپرېږي.

لومړنۍ پایلې هم د قرنتین شوو رایو له ارزونې وروسته خپرېږي. د نهایي پایلو اعلان هم له دې وروسته چې ټاکنیزو شکایتونو ته رسیده ګي شوې وي، د ټاکنو د اعلان له معلومې نېټې سره سم، د ټاکل شوو نوماندانو په مشخصولو سره د ټاکنو کمېسیون د سایټ له لارې خپرېږي.

## څارونکي بنسټونه: په ولسمشریزو ټاکنو کې د ځینو ستونزو له کبله د ښځو ګډون کم و

پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وایي چې نه یوازې په ولایتونو، بلکې په کابل کې هم د بېلابېلو ستونزو له امله د ښځو ګډون کم و.

د کابل په ګډون د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د ولسمشریزو ټاکنو بهیر د شنبې سهار په اوو بجو پیل شو.

دا ځل چې درې نیم میلیونو افغانو ښځو د رایې ورکولو لپاره نوملیکنه کړې وه، خو هغوی چې رایه یې وکاروله، د دغې پروسې له ستونزو شکایت یې کاوه.

نورې او منیرې چې د کابل ښار په زرغونې لېسه کې یې غوښتل رایه وکاروي، په نوملړ کې یې نومونه نه وو.

دوی ویلي: «زموږ ستونزه دا ده چې په دې ناامنیو کې له څومره ستونزو سره راغلي یو، خو دلته لا هم کارکوونکي نه دي راغلي او نومونه مو په نوملړ کې نشته».



«په نوملړ کې مې نوم نشته، په داسې حال کې چې ما همدلته نوملیکنه کړې وه».

له بایومټریک سیستم سره د ځینو ښځینه کارکوونکو نه بلدتیا بیا بله هغه ستونزه وه، چې په ځینو محلونو کې ښځې ورسره مخ وې.

په ورته وخت کې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا وایي، دغو ستونزو نه یوازې په ولایتونو، بلکې په کابل کې هم د ښځو پر ګډون اغېز کړی و.

د دغه بنسټ ویانده سمیرا رسا وایي: «له بده مرغه نه یوازې په ولایتونو کې، بلکې په کابل کې هم په دغو ټاکنو کې د ښځو ګډون کمرنګه و، یو لامل یې دا و چې په ولایتونو کې ناامني وه او بل یې د ښځینه کارکوونکو نه موجودیت و».

خو په ځینو ولایتونو کې د ښځو ګډون په دغه پروسه کې د پام وړ و او دوی خوښې وې چې له خپل سیاسي حقه ګټه پورته کوي.

زینب هم رایه ورکړې او هیله منده ده چې رایه یې حساب شي.

دا وایي: «دا مې دویم ځل دی چې په انتخاباتو کې رایه ورکوم، زه په دې خوښه یم چې حد اقل له دې حقه په ګټنې د خپل هېواد د راتلونکي په ټاکلو کې ونډه لرم».

د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي چې له ستونزو سره سره، د افغان مېرمنو ګډون په ولسمشریزو ټاکنو کې د ستایلو و.

د ډېریو ښځو باور دا دی چې په دې ټاکنو سره به وکړای شي چې په هېواد کې د تحولاتو لپاره زمینه برابره شي، خو ځینې یې بیا ټینګار کوي چې که د امنیت له امله ډاډ موجود وای، د ښځو ګډون به پراخ و.

# ولسمشریزې ټاکنې؛
## د تېرو ټاکنو په پرتله د خلکو گډون په ځلونو کمرنگه و



له سختو امنیتي ستونزو سره سره، په هېواد کې ولسمشریزې ټاکنې تر سره شوې، خو د خلکو گډون پکې کمرنگه و. سره له دې چې د ولس اکثریت سولې ته لومړیتوب ورکاوه، خو حکومت تر سولې پر ټاکنو زیات ټینگار کاوه. له دې سره هممهاله وسله والو طالبانو د ټاکنو د تر سره کېدو په تړاو ولس ته خبرداری ورکړی و او ویلي یې وو، چې ټاکنې به گډوډوي. له همدې امله په ټاکنو کې د خلکو گډون کمرنگه و او کم شمېر افغانانو په دې ټاکنو کې برخه واخیسته.

د راپورونو له مخې، پرون سهار اووه بجې د هېواد په ولایتونو او مرکزونو کې اکثریت مرکزونه پرانیستل شول او خلک رایې اچونې ته ورتلل. له دې سره په کابل کې نوماندانو او لوړپوړو حکومتي چارواکو هم خپله رایه وکاروله. ولسمشر غني د رایې اچونې پر مهال پر ولس غږ وکړ، چې له خپل حقه استفاده وکړي او په ټاکنو کې گډون وکړي. د غني په خبره، دا لومړی ځل دی چې د ولسمشریزو ټاکنو ستره برخه لگښتونه د حکومت له بودیجې ورکول کېږي او کمه برخه یې له بهرنیو مرستو تامین شوې ده. د ولسمشر غني په خبره، دا ټاکنې به شفافې وي او هیله یې ځرگنده کړه، چې افغانستان د ثبات پر لوري بوځي. ولسمشر غني دا هم وویل، چې یو قوي حکومت کولی شي، د سولې په برخه کې تر ټولو موثر گامونه اوچت کړي.

اجرایه رییس او د ولسمشر غني ټاکنیز سیال ډاکټر عبدالله عبدالله هم خبریالانو ته وویل، چې په ځینو برخو کې ستونزې موجودې دي، خو دی هیله لري چې ټاکنیز کمېسیونونه په پوره بې طرفۍ کار وکړي او د ولس حق ته درناوی وکړي. تر اجرایه رییس وروسته، د ولسمشریزو ټاکنو نوماند گلبدین حکمتیار هم خپله رایه وکاروله او په خبره یې په ټاکنو کې د درغلیو لپاره پوره تیاری نیول شوی دی او ځینې نوماندان غواړي چې پلان شوې درغلي تر سره کړي.

خو د نوماندانو له څرگندونو سره سره، په هېواد کې په ټاکنو کې د خلکو گډون کمرنگه و. په ټولنیزو رسنیو کې خپرې شوې ویډیوگانې او انځورونه ښیي، چې په ډېری مرکزونو کې چې په تېرو ټاکنو کې به سلگونه کسان په کتارونو کې ولاړ وو، دا ځل یوازې د ټاکنو کمېسیون کارکوونکي حضور لري. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند گلبدین حکمتیار بیا تېره ورځ ناوخته له رسنیو سره په خبرو کې وویل: «د شمېرو له مخې څه باندې ۲۰ میلیونه وگړي د رایې اچونې له حقه محروم شوي دي». هغه زیاته کړې، کومې شمېرې چې د ټاکنیزو کمېسیونونو له آدرسه خپرېږي، ناسمې دي. تر اوسه د هغو کسانو شمېر نه دی معلوم شوی، چې په پرونیو ټاکنو کې یې برخه اخیستې وه، خو ځینې سرچینې وایي چې ښایي د یو نیم میلیون په شاوخوا کې وگړو به په ټاکنو کې برخه اخیستې وي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي، دوی هېڅ ډول تقریبي شمېرې نه خپروي، خو کله چې ټولې رایې او د مرکزونو معلومات مرکزي سرور ته راشي، نو دوی به مطلقې شمېرې خپرې کړي. دغه کمېسیون وایي، دوی خپلې چارې په پوره ژمنتیا په سمه توگه تر سره کوي او په خبره یې که تخنیکي ستونزې پیدا نه شي، په څو ساعتونو کې به د ټولو مرکزونو پایلې مرکزي سرور ته راورسېږي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون هم دا مني، چې په ټاکنو کې د خلکو گډون کمرنگه و، خو په خبره یې له امنیتي گواښونو سره سره، د خلکو گډون د ستاینې وړ دی. دوی وایي، د خلکو کمرنگه گډون د ټاکنو مشروعیت ته زیان نه شي رسولی.

بل پلو ځینو هېوادونو هم د افغانستان په ولسمشریزو ټاکنو غبرگون ښودلی دی. په کابل کې د امریکا سفارت په یوه پیغام کې ویلي، دوی له گواښونو سره سره په ټاکنو کې د خلکو گډون ستایي او د دې هیله لري چې دغه ټاکنې افغانستان ته دایمي ثبات راولي. سفارت د ټاکنو پر گډون کوونکو او دغه راز نوماندانو غږ کړی، چې د ټاکنو پایلې ومني او د افغانستان قوانینو ته درناوی وکړي.

بلخوا وسله والو طالبانو بیا تېره ورځ د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي، دوی بریالي شوي چې ټاکنې گډې وډې کړي او د خلکو گډون کمرنگه کړي. د دوی په خبره، دوی تر خپل کنټرول لاندې سیمو کې ټاکنو ته اجازه ور نه کړه او ډېر عملیات یې هم تر سره کړي دي. د هېواد دفاعي او امنیتي چارواکو بیا د طالبانو دغه ادعا رد کړې ده. دوی ویلي، د وسله والو طالبانو لسگونه عملیات یې خنثی کړي دي او د امنیت په تامین کې بریالي وو.

د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو هم د امنیتي او دفاعي ځواکونو فعالیتونه او کړنې ستایلې دي.

بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا په وروستیو څرگندونو کې ویلي، چې په راتلونکو دریو اونیو کې به وروستۍ پایلې اعلان کړي او په خبره یې ټولو ټاکنیزو شکایتونو ته به رسیده گي کېږي.

## خالد: د تېرې ورځې په ټاکنو کې د اندېښنې وړ ستونزه رامنځته نه شوه



د افغانستان د دفاع وزارت سرپرست اسدالله خالد ویلي چې د تېرې ورځې په ټاکنو کې د اندېښنې وړ لویه ستونزه رامنځته نه شوه.

نوموړي ویلي، چې لوگر، تخار، کنړ، جوزجان، فاریاب او کندوز هغه ولایتونه وو چې تر لوړو امنیتي گواښونو لاندې وو.

خالد د کورنیو چارو وزارت له سرپرست مسعودي اندرابي سره تېره ورځ تر ټاکنو وروسته یوې خبري ناستې د ټاکنو د پروسې په اړه معلومات ورکړل.

هغه ویلي، چې د ټاکنو په ورځ هېڅ داسې ستونزه نه ده رامنځته شوې چې خلک له ستونزو سره مخ کړي او ټاکنې په بریالیتوب سره پای ته رسېدلې دي. نوموړي زیاته کړې، چې د تېرو ټاکنو په پرتله د وسله والو طالبانو بریدونه تر ټولو په ټیټه کچه کې وو او امنیتي ځواکونو وکولی چې په ځینو سیمو کې د دوی بریدونه شنډ کړي. بل لور ته د کورنیو چارو سرپرست مسعود اندرابي هم یادې خبري ناستې ته ویلي چې طالبانو د ټاکنو پر ورځ په ټول هېواد کې ۶۸ بریدونه کړي چې د امنیتي ځواکونو له لوري دفع شوي دي.

هغه زیاته کړې: « طالبانو تېره اونۍ گواښ کړی و چې ټاکنې به گډوډې کړي، خو امنیتي ځواکونو د دوی پلانونه له منځه یوړل».

هغه دغه راز ویلي چې د ټاکنو پر ورځ په ټول هېواد کې د لوړو امنیتي گواښونو له کبله د رای اچونې ۴۶۸ مرکزونه تړلي وو.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي وو چې د ټاکنو پر ورځ به یوازې ۴۴۵ مرکزونه تړلي وي چې وروسته بیا په دې شمېره کې بدلون راغی او دغه شمېره ۴۶۸ ته لوړه شوه.

په ورته وخت کې د امنیتي ادارو مسوولینو ویلي چې امنیتي ځواکونه به ډېر ژر د هېواد له گوټ گوټ څخه د ولایتونو مرکزونو ته ټاکنیز مواد بېرته ولېږدوي.

## ټاکنو کمېسیون: له نوماندۍ څخه د تېرو شویو کاندیدانو رایې نه شمېرل کېږي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د څلورو هغو نوماندانو چې بل نوماند ته له خپلې نوماندۍ تېر شوي، رایې یې نه شمېرل کېږي.

د کمېسیون لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، په ټاکل شوي وخت له نوماندۍ څخه تېرېدل د نوماندانو مسلم حق دی.

سرچینې زیاته کړې، دغه موضوع د ټاکنو قانون د ۷۵مې مادې په لومړۍ فقره کې داسې ذکر شوې ده: «که چېرې کوم نوماند له خپلې نوماندۍ منصرف شي، مکلف دی چې په ټاکنیز مهالوېش کې تر ذکر شوې نېټې وړاندې موضوع په لیکلې بڼه له کمېسیون سره شریکه کړي». همدارنگه د دغې مادې په دویمه فقره کې راغلي: «کله چې کوم نوماند په ټاکنیز مهالوېش کې تر ذکر شوې نېټې وروسته له نوماندۍ تېر یا وفات شي یا د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون لخوا د نوماندانو له لېسته و ایستل شي، د رایې شمېرلو پر وخت په ده پورې اړوندې رایې نه شمېرل کېږي».

کمېسیون ویلي، پر دې اساس نوماندان د رایې شمېرلو پر وخت په دوی پورې د اړوندو رایو د نه شمېرلو په خاطر مکلف دي، چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په لیکلې بڼه له خپل انصرافه خبر کړي.

دا په داسې حال کې ده چې زلمی رسول، شیدا محمد ابدالي، ابراهیم الکوزی او نورالحق علومي د ولسمشرۍ نوماند اشرف غني په گټه تېر شول.

ټاکنو کمېسیون دا خبره داسې مهال کوي، چې د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې تېره ورځ له امنیتي ستونزو سره سره، بیا هم تر سره شوې.

# عمران خان: د کشمیر روان وضعیت د هند او پاکستان ترمنځ د اټومي جگړې لامل کېدای شي



د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د ملگرو ملتونو عمومي غونډې ته په وینا کې له نړیوالې ټولنې غوښتي، چې د ده په خبره، د ۱.۲ میلیارده خلکو د خوشالولو پر ځای، هند اړ کړي چې د کشمیر په تړاو خپله پالیسي بدله کړي.

عمران خان ویلي، د کشمیر روان وضعیت د پاکستان او هند تر منځ د اټومي جگړې لامل کېدای شي. نوموړي زیاته کړې، که جگړه وشي، په خبره یې پاکستان به تر وروستي بریده لاړ شي.

عمران خان غونډې ته په وینا کې ویلي، د هند تر کنټرول لاندې کشمیر کې ۸۰۰ سوه زره انسانان د گرځېدو راگرځېدو په بندیز کې ایسار پاتې دي او کله چې دا بندیزونه ختم شي، په وینا یې هلته به د وینو سیندونه وبهیږي.

په ورته مهال د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي د ملگرو ملتونو عمومي غونډې ته ویلي، هېواد یې نړۍ ته جگړه نه ده ورکړې، خو په خبره یې، ځینې هېوادونه هڅه کوي څو له تروریزم څخه په ملاتړ، نړیوال امنیت له گواښ سره مخ کړي.

هغه د پاکستان د نامه له یادولو پرته په کنایوي ډول پر دغه هېواد توندې نیوکې هم کړې دي.

نوموړي زیاته کړې: «موږ په جدیت سره د ترهگرۍ په تړاو نړیوالو ته خبرداری ورکوو». مودي ویلي، ترهگري د یوه هېواد ستونزه نه ده، بلکې د ټولې نړۍ لپاره گواښ دی او له همدې کبله باید نړیوال د ترهگرۍ پر ضد یو موټی شي.

بلخوا عمران خان ویلي، د ملگرو ملتونو رپوټونه ښیي چې په کشمیر کې تر ۱۰۰ زرو پورې خلک وژل شوي او د جنسي تېري زرگونه پېښې رامنځته شوې دي.

هغه له ملگرو ملتونو غوښتي چې له کشمیریانو سره کړې ژمنې عملي کړي.

د خان په خبره: «باید د لومړي او سملاسي گام په توگه، په کشمیر کې پر گرځېدو راگرځېدو بندیزونه لرې کړل شي».

وروسته له هغې یو ځل بیا د پاکستان او هند ترمنځ اړیکې ترینگلې شوې، کله چې څه موده وړاندې د هند پارلمان د دغه هېواد تر کنټرول لاندې کشمیر څخه کورواکي بېرته واخیسته او سیمې ته یې په زرگونو امنیتي ځواکونه ولېږل.

تر دغه اعلان وروسته، هندي او پاکستاني ځواکونو څو ځله نښتې هم کړې دي، چې دواړو ته پکې درنه مرگ ژوبله اوښتې ده.

## د کتـاب خبـرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

**څلورم څپرکی**
**د وزیرستان جگړه**




په ۲۰۰۵ز کال د القاعدې په د ننه اړیکو کې وزیرستان د دې ډلې مرکز یاد شوی و. د ۲۰۰۵ز کال په ډسمبر کې د القاعده ډلې یوه مشر عطیه عبدالرحمن د القاعدې د عراق څانگې مشر، ابو مصعب الزرقاوي ته په یوه لیک کې لیکلي وو: ((تاسو خپل پیغام وړونکی وزیرستان ته ولېږئ، هلته به د رهبرۍ له وروڼو، باتجربه او شیخانو سره ووینې.)) راتلونکو کلونو کې القاعدې نور هم خپل نفوذ پر دې سیمو پراخ کړ. له لاندني متن څخه ښکاري چې بهرنیو بنسټپالو جگړه مارو څنگه وزیرستان په بل مخ واړاوه:

((دا چې د دې ځای خلکو خپل ژوند جهاد ته وقف کړی، د الله ج پرې رحمت دی. پر دوی به دواړو جهانونو کې د رحمت دروازې پرانیستې وي. ډېر لږ وخت وړاندې دا سیمه هېچا نه پېژنده، خو نن ورځ د ټولو نړیوالو راډیوگانو، ټلویزونونو او ورځپاڼو سرلیکونه د همدې سیمې له نوم پیلېږي. یوازې په اسلامي نړۍ کې نوم نه لري، بلکې د کفارو مشران هم په خپله ژبه د وزیرستان نوم یادوي. د دې سیمې خلک له جهاد سره د همکارۍ له کبله په دې عصر کې هم له رحمت څخه برخمن دي. هغوی د نړۍ اکثرو مجاهدینو ته خوندي ځای ورکړی، په دې کار سره یې ځواکمن شیطان هم گواښلی. هغوی خپل ژوند، کورنۍ او کروندې په خطر کې اچولې دي، خو بیا یې هم د جهاد ډیوه بله ساتلې.

دا د جهاد برکت دی چې دا ځای اوس د جهاد تر ټولو ځواکمن سنگر او د نړیوال جهاد مرکز دی. دا ځای یو وخت په جهالت، غلاوو، لوټماریو، قتلونو، چور او نشه یې توکو مشهور و. الحمد الله، د کډوالو مجاهدینو کورنۍ له تېرو اتو کلونو دلته اوسېږي. له دې مهاجرینو څخه د دې ځای خلک ساتنه کوي. د دې سیمې خلک د هغوی له کردار او پوهې گټه اخلي. هغوی خپل ځان وقف کړی، د هغوی له ملگرتیا گټه اخلي.

کډوال له انصارو (ځایي خلک) سره نږدې اوسېږي. دوی د ښارونو له بد تهذیب څخه لیرې اوسېدلي، ځکه نو د سخاوت، مېړانې، ساده توب، یوې خبرې، عزت او حیثیت ستاینې لري. د کډوالو علم او تقوا چې د ځایي خلکو له طبعي شعور سره یو ځای شي، له دې سیمې یوه نوې اسلامي ټولنه جوړوي. که څه هم دا سیمه له انساني ارزښتونو خالي نه ده، خو د مهاجرینو او انصارو یووالي دا سیمه د سولې دولت په نوم بدله کړې وه. یاده سیمه د القاعدې له راتگ وړاندې داسې نه وه، دلته غلاوې، چور او نا امني حاکمه وه. د شپې له لخوا تگ راتگ ناشونی و. د قومونو خپل منځي شخړې هم ډېرې وې. که څه هم په وزیرستان کې پولیس او استخبارات نشته، خو بیا هم دلته سوله ده، غلاوې، چور او چپاول نشته. الحمد الله، موږ داسې ډېرې ښېلگې لرو چې د پرون ورځې نشه یان، غله او ډاکوگان نن ورځ مجاهدین دي او د الله ج په لاره کې جهاد کوي. دا د جهاد برکت دی چې بدعت او شرک پای ته رسېدلی.))

په قبایلي سیمو کې د القاعدې بیا یو ځای کېدل د هغوی لپاره یو فرصت و چې په لوېدیځ کې د کړکېچ لپاره نوي پلانونه جوړ کړي. له ۲۰۰۴ز کال وروسته چې په اروپا او شمالي امریکا کې هر څومره بریدونه شوي، د ډېریو پل یې پاکستان ته راغلی. له دې برید کوونکو څخه ډېری یې، یا قبایلي سیمو کې روزل شوي وو، یا هم دې سیمې ته د القاعدې د غړو لیدنې ته راغلي وو. د سپټمبر ۱۱ مې له بریدونو وروسته، په لوېدیځ کې تر ټولو لوی برید، د ۲۰۰۵ز کال د جولای پر ۷مه، لندن کې د ټرانسپورټ پر سیسټم برید یادولای شو.

له دې بریدگرو ځینې په فاټا کې روزل شوي وو. یا خو یې په دې سیمو کې د القاعده له مشرانو سره د لاربښوونو په موخه کتلي وه. را روانو کلونو کې هم کوم بریدونه چې په بریټانیه، اروپا، اسټرالیا، امریکا متحده ایالتونو او کاناډا کې شوي، له دې سیمې سره اړیکه لري. که څه هم له دې بریدونو ډېری یې ناکام شوي، خو څرگندوي چې په افغانستان کې د طالبانو د رژیم له ړنگېدو وروسته یو ځل بیا القاعده پر پښو درېدلې وه.

په ۲۰۱۰ز کال، په شمالي وزیرستان کې د حقاني شبکې د واک پراختیا او په سویلي وزیرستان کې د پاکستاني طالبانو د تحریک د کنټرول پر زیاتېدو دا سیمه د نړیوالو ترهگرو پر ځاله بدله کړه. دې سیمې ته له لوېدیځ څخه نوو جنگیالیو هم مخه کړه. په ۲۰۰۸ز کال د بارسلونا پر مېټروسېسټم برید په مستقیمه توگه د پاکستان د طالبانو تحریک پلان کړی و.

په ۲۰۱۰ز کال نجیب الله ځاځي ته په همدې سیمه کې د القاعدې له لوري د بم جوړولو روزنه ورکړل شوه، هغه اصل کې افغان و، خو په قانوني توگه یې په امریکا متحده ایالتونو کې ژوند کاوه. هغه پلان لاره د نیویارک پر مېټروسېسټم برید وکړي. د ۲۰۱۰ز کال په مې میاشت کې فیصل شهزاد چې په اصل کې پاکستانی و، خو په امریکا کې یې ژوند کاوه، غوښتل د امریکا په نیویارک څلورلارې کې د سپورټي موټر پر مټ برید وکړي. هغه هم په وزیرستان کې د پاکستاني طالبانو له لوري روزل شوی و. (TTP) هغه ته د همدې برید لپاره نغدې پیسې ورلېږلې وې.

**دوام لري...**

# بایزید روښان د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




بایزید روښان د لوړو زده کړو موسسې خپل فعالیت په لوړو زده کړو وزارت کې تر ثبت او راجستر وروسته، په ۱۳۹۵ لمریز کال کې په رسمي ډول د دوو پوهنځیو (حقوقو او سیاسي علومو او ستوماتولوژۍ) په درلودو سره پیل کړ. د بایزید روښان د لوړو زده کړو موسسې رییس پوهاند عبدالحنان بری وایي، له فعالیتونو او د معیارونو تر پوره کولو وروسته، دغه موسسه وتوانېده چې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ یو بل پوهنځی هم د دغه موسسې په چوکاټ کې ور زیات کړي. اوسمهال دغه موسسه درې پوهنځي (معالجوي طب، ستوماتولوژي او حقوق او سیاسي علوم) لري.

د لوړو زده کړو دغه موسسه اوسمهال ۱۷۷۵ محصلین لري، چې له دې ډلې ۱۲۶۸ نارینه او پاتې یې ښځینه محصلینې دي. د ښاغلي بري په خبره، دا چې دې موسسې په ۱۳۹۵ لمریز کال کې پر فعالیت پیل کړی، نو تر اوسه پورې یې کومه دوره محصلین نه دي فارغ کړي؛ ځکه طبي پوهنځیو کې تدریسي کلونه د نورو پوهنځیو په پرتله ډېر وخت نیسي او تر څنگ یې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی هم تر اوسه پورې هغه څلور کلن بهیر چې محصل پکې لېسانس کېږي، نه دی پوره کړی.

د بایزید روښان د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، په دې موسسه کې د تدریس چارې د ۴۹ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې ۲۰ یې دایمي او ۲۹ یې بیا قراردادي استادان دي. د پوهاند عبدالحنان بري په خبره، ټول استادان یې د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري چې د دې ۴۹ استادانو له ډلې ۱۱ تنه یې ښځینه استادانې دي. دی وایي، استادان یې د تدریس په برخه کې کافي تجربه لري او هڅه کوي چې د تدریس پر مهال له نویو او مؤثرو میتودونو څخه گټه واخلي.

ښاغلی بری وایي، محصلینو ته د نظري زده کړو تر څنگ، عملي زده کړې هم ور کول کېږي څو بیا د کار او دندې پیدا کولو پر مهال له ډېرو ستونزو سره مخ نه شي.

د بایزید روښان د لوړو زده کړو موسسې په معالجوي طب پوهنځي کې یوازې د سهار لخوا تدریس کېږي، خو حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې شامل محصلین کولی شي چې د ورځې په اوږدو کې په بېلابېلو وختونو کې د زده کړو لپاره حاضر شي. ځکه د پوهاند بري په خبره چې سهار وختي، له غرمې مخکې، تر غرمې وروسته او د شپې لخوا یې د محصلینو لپاره د زده کړو زمینه برابره کړې ده. په خصوصي پوهنتونونو کې تر ډېره هغه محصلین زده کړې کوي، چې د ورځې لخوا په دولتي یا غیر دولتي اداره کې دنده ولري او یا هم پر نورو کارونو بوخت وي. د لوړو زده کړو دغه موسسه تر اوسه پورې له کوم بهرني پوهنتون سره اړیکه یا هوکړه نه لري، خو د مشر تابه په خبره یې چې په کور د ننه له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره نیکې اړیکې لري او تر څنگ یې له ځینو پوهنتونونو سره هوکړې هم لري.

پوهاند عبدالحنان بری وایي، بایزید روښان د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو او استادانو لپاره مناسب کتابتون لري، چې په بېلابېلو برخو کې په هارډ ډول له دوو زرو زیات کتابونه پکې ځای پر ځای شوي دي. تر څنگ یې په سافټ ډول هم کتابتون لري، چې محصلین کولی شي د انټرنېټ په شتون کې ورته لاسرسی ولري، د خپلې خوښې کتاب پکې ولټوي او مطالعه یې کړي. دی وایي، د هغو پوهنځیو د محصلینو لپاره چې په طبي برخه پورې اړوندېږي، پنځه مجهز لابراتوارونه لري. تر څنگ یې ورزشي جمنازیوم او د ښځینه محصلینو لپاره د ټرانسپورټ اسانتیاوې هم په پام کې نیول شوې دي.

دغه موسسه د محصلینو د فیس د تخفیف په برخه کې بېلابېلې کټگورۍ لري. ښاغلی بری وایي چې له لوړو زده کړو وزارت سره د یوې هوکړې له مخې د شهیدانو، معلولینو د وارثینو او بېوزله کورنیو د محصلینو لپاره بېلابېل تخفیفونه لري، چې ان تر سل سلنې پورې تخفیف یې هم ور کړی دی. د دې تر څنگ، حالاتو ته په کتو خپلو محصلینو ته تخفیف ورکوي.

پوهاند بری د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ د توپیر په اړه وایي، ټول پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې اوسمهال د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي او وخت ناوخت یې ارزوي. دی وایي، سږ کال دغه وزارت لږ تر لږه ۲۶ د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته اجازه ور نه کړه، چې نوي محصلین ونیسي، ځکه دوی ټاکلي معیارونه نه وو پوره کړي. بری وایي، دا چې دغه پوهنتونونه ټول د دې وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي او ټاکلی درسي کریکولم تدریسوي، نو د خصوصي او دولتي پوهنتونونو تر منځ کوم توپیر نهویني. دا چې د خصوصي پوهنتونونو فعالیت په افغانستان کې یو څه نوې خبره ده، نو عام خلک یې تر منځ توپیر رامنځ ته کوي.

د دغې موسسې اداره غواړي په راتلونکې کې اول د خپلو پوهنځیو شمېر زیات کړي او پوهنتون ته ارتقاع وکړي او تر څنگ یې په ځینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروگرامونه هم پیل کړي. ښاغلی بری وایي، د اقتصاد، کمپیوټر ساینس او قابلگۍ پوهنځیو د ایجاد لپاره یې لوړو زده کړو وزارت ته غوښتنلیکونه سپارلي، خو دا چې له څو کلونو راهیسې په خصوصي پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو تاسیس د وزارت لخوا بند شوی دی، دوی تر اوسه پورې په دې چاره نه دي بریالي شوي. نوموړی وایي، که لوړو زده کړو وزارت د نویو پوهنځیو منظوري ورکړي، دوی به د کار مارکېټ ته په کتو، نوي پوهنځي تاسیس کړي.

د بایزید روښان د لوړو زده کړو موسسې رییس له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسې استادانو ته هم د ترفیع پروگرام پیل کړي، څو هغه استادان چې په خصوصي پوهنتونونو کې تدریس کوي، له دې حق څخه برخمن شي او تر څنگ یې د امکان په صورت کې د تقاعد په قانون کې هم شامل شي. دغه راز هغه بورسونه چې د استادانو او محصلینو لپاره راځي، اوسمهال ترې یوازې د دولتي پوهنتونونو استادان او محصلین برخمن کېږي. ښاغلی بری وایي، لوړو زده کړو وزارت باید په دې برخه کې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ توپیر ونه کړي.

د خصوصي پوهنتونونو محصلینو ته تر فراغت وروسته ژر تحصیلي اسنادونه نه ورکول کېږي او ډېر کله خلک پرې نیوکه هم کوي، د دې موسسې رییس ښاغلی بری وایي، دوی به د محصل تر فراغت وروسته، د خپلې اداري لخوا ډېر ژر د محصل د تحصیلي اسناد کار خلاص او هغه ته به یې وسپاري، څو د دندې پیدا کولو پر مهال تر گټه واخلي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۵ |
| € | ۸۵,۹۰ |
| Rp. | ۵۰۱ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۶,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# تشهیر

**لیکنه: گلاب بهار - دویمه برخه**

د تشهیر له وسایلو څخه هدف هغه لاره ده، چې د هغې په واسطه تشهیر کوونکی خپل پیغام اړوندو کتونکو ته رسوي. په نننۍ عصر کې د تشهیر کوونکي لپاره د تشهیر بې شمېره وسایل موجود دي. د تشهیر کوونکو لپاره دا کومه ستونزه نه ده، چې د تشهیر کومه ذریعه غوره کړي، خو ستونزه دا ده چې تشهیري فعالیتونه څه ډول سره یو ځای او همغږي کړي، څو په اغېزمن ډول مواصلاتي ذرایغ وکارول شي. هغه ستر ستر وسایل او ذرایع چې د تشهیر کوونکي په واک کې دي، په لاندې ډول تشریح کېږي.



**اول- د مطبوعاتو په وسیله تشهیر**

د پرېس په واسطه تشهیر د چاپ شویو الفاظو (Printed Wards) په ذریعه کېږي او دا عبارت له ورځپاڼو، رسالو، جرایدو او مجلو څخه دي.

الف- ورځپاڼې: د پرېس په واسطه په تشهیر هېوادونو کې د اخبارونو په ذریعه تشهیر تر سره کېږي او اخبارونه په ځایي، سیمه ییزه او ملي کچه په مختلفو ژبو چاپ کېږي. اخباري تشهیر په دوه ډوله کېږي، چې یو ته وضاحتي تشهیر ویل کېږي او بل ته کلاسفایډ تشهیر وایي. له توضیحي تشهیر (Demonstrative) څخه مطلب داسې تشهیر دی، کوم چې د مختلفو حروفو یا تصویرونو سره ښکاره کوي، څو په سمدستي توګه د لوستونکو توجه ځان ته راوګرځوي، په داسې حال کې چې کلاسیفایډ تشهیرونه له کوم عنوان او یا څلور ګوټیز په واسطه ښودل کېږي. د اخبارونو په واسطه د تشهیر یوه ګټه دا ده، څرنګه چې د اخبارونو اسانتیا په هر ځای کې موجوده ده، نو ځکه تشهیري پیغام په پرله پسې توګه ورکول کېږي، خو یوازې بې تعلیمه او بې سواده خلکو ته یې رسېدل ګران دي او د توضیحي پیغام لپاره اخبارونه د تشهیر لپاره یوه وړ او موزونه ذریعه ده.

ب- کتاب او مجلې: له اخبارونو څخه پس مجلې او کتاب هم د تشهیر لپاره یوه اغېزمنه ذریعه ګڼل کېږي. د اخبارونو په پرتله مجلې خاص خلک لولي او په محدوده کچه خپرېږي. د مجلو او رسالو ډېر اقسام دي، لکه تجارتي کتاب، ادبي کتاب، فلمي کتاب او د ماشومانو مجلې یا له دې کبله چې په مجلو او رسالو کې مواد زیات وي، نو تر ډېره وخته پورې د لوستلو مرکز وي. مجلې د ښه او زړه راښکونکي کاغذ او د رنګین چاپ له کبله یې خلک خوښوي. په مجلو او رسالو کې د تشهیر چاپېدل ډېر اغېز لري؛ خو د محدود تیراژ د چاپیدو په وجه ورباندې لګښت ډېر راځي. څرنګه چې مجلې او کتاب په اونۍ او یا میاشت کې یو ځل خپرېږي، ځکه نو تشهیري پیغام ژر بدلون نه شي موندلی.

**دویم- نشراتي تشهیر**

نشراتي تشهیر د راډیو او ټلویزیون له لارې خپرېږي، په اوسني دور کې راډیو او ټلویزیون د شیانو د تشهیر په لړ کې اغېزمن رول لوبوي او دا رول ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو دی.

الف- راډیو: د راډیو په ذریعه تشهیري پیغام اورېدونکو ته رسول کېږي، د راډیو له لارې تجارتي پروګرام، د کارخونو لرونکو لپاره د تشهیر په لړ کې بې شمېره اسانتیاوې برابرې کړې دي. د اخبارونو او مجلو په نسبت، د راډیو له لارې تشهیري پیغام خپرول ډېر اغېزمن ثابتېږي، د اواز او موسیقۍ د جادو په ذریعه اورېدونکي تر تاثیر لاندې راځي، د راډیو له لارې د تشهیري پیغام د خپرولو وخت ډېر کم وي، ډېر کارخونې لرونکي او یا پیداکوونکي د شیانو د شهیر لپاره له راډیو څخه کار اخلي.

ب- ټلویزیون: د اخبارونو او مجلو په نسبت، راډیو او د راډیو په نسبت د تشهیري پیغام د خپرولو لپاره ټلویزیون ډېره اغېزمنه ذریعه ده، ځکه چې ټلویزیون هم اواز خپروي او هم تصویر او د دې دواړو لیدل او اورېدل پر خلکو ډېر تاثیر کوي. د ټلویزیون له لارې تشهیر توضیحي بڼه غوره کوي، چې تر ډېره وخته پورې د هغې اغېز د لیدونکو په ذهن کې پاتې کېږي. ټلویزیون د تشهیر یوه ګران بیه ذریعه ده، د راډیو په پرتله خلکو ته د هغې رسېدل په محدوده کچه وي، خو د شیانو د تشهیر په ذریعو کې ټلویزیون د ډېر اهمیت وړ ذریعه ده. د ټلویزیون له لارې د خپرېدونکو بېلابېلو پروګرامونو په وقفو کې ډېر په زړه پورې او د لیدو وړ اشتهارات خپرېږي، چې د هغې کتل پر لیدونکو ډېر تاثیر کوي.

ج- د ډاک پوستې په ذریعه تشهیر: د ډاک په ذریعه تشهیري پیغام د احتمالي خریدارانو کورونو او دفترونو ته په مستقیم ډول ور رسول کېږي. د ډاک په ذریعه په تشهیر کې، لیکونه، پوسټ کارډونه، کېټلاک او کتابچې شاملې دي.

**درېیم- له دروازې نه بهر تشهیر**

له دروازې بهر تشهیر کې پوسټرونه او بینرونه شامل دي، پوسټرونه پر دیوالونو باندې په ټولیز ډول لګوي. بینرونه او پوسټرونه په ټولیز ډول لارو او واټونو کې ځوړندوي، څو لارویان په اسانۍ سره هغه ولولي. په ځینو هېوادونو کې ځایونه ورته ځانګړي کړای شوي دي، څو کاروباري اداري هلته پوسټرونه او بینرونه ولګوي. په دې طریقې سره د مشتریانو توجه په سمدستي توګه را اوړي، ځکه چې خلک یې له دغه ځایه د تېرېدو په مهال بیا بیا لولي او لوستل یې ډېر وخت هم نه نیسي؛ خو دا طریقه د تشهیر لپاره د یوې سترې او مهمې ذریعې په توګه نه کارول کېږي. بله دا چې پر دیوالونو باندې د پوسټرو په لګولو سره دیوالونه هم خرابېږي. همداراز په عمومي لارو او واټونو کې د تشهیر د لوستلو په وجه د ګڼې ګوڼې په پایله کې د ترافیکي او نورو پېښو د رامنځ ته کېدو وېره هم شته.

**څلورم- د سکوین په ذریعه تشهیر**

په دې طریقه کې تشهیر د فلم او نمایش په ذریعه کېږي، چې په لاندې ډول واضح کېږي.

فلم: ځینې کمپنۍ د تشهیر لپاره له سینماګانو څخه کار اخلي، د فلم له شروع کېدو څخه د مخه او له وقفې وروسته اشتهارات ښودل کېږي، په دې ډول اشتهاراتو کې د خلکو د تفریح لپاره مناظر هم ښودل کېږي.

وینډو ډریسنګ: دا هم د تشهیر یوه مهمه وسیله ده، د تشهیر په دې طریقه کې دوکاندار یا اداره د مستهلکینو د متوجه کولو لپاره په مغازه کې د ښیښو په الماریو کې شیان ږدي؛ څو مغازې ته تلونکي راتلونکي خلک هغه ووینې. ځکه کله کله مشتریان د کوم څیز د اخیستو اراده نه لري، خو چې کله کوم شی په پورته ډول ووینې او خوښ یې شي، سمدستي یې د اخیستو نیت کوي.


تجارتي میله: د شیانو نندارتون پرانیستل یا تجارتي میله هم د شیانو د تشهیر د ذریعې په توګه استعمالیدای شي. دا ډول میلې په پراخه کچه په مرکزي ځایونو کې جوړېږي. کله کله غټو غټو کاروباري ادارو ته د خپلو حریفانو د ځانګړتیاوو، د پلورلو د طریقو، کیفیت او تخنیک په باب معلومات تر لاسه کېږي.

د انټرنېټ په ذریعه تشهیر: په نننۍ پرمختللي عصر کې نړیوالې سوداګریزې ادارې د انټرنېټ په واسطه د خپلو شیانو تشهیر کوي. دا د نړۍ تر ټولو نوې او چټکه د ارتباط ټینګولو ذریعه ده. د راډیو او ټلویزیون په پرتله، خلکو ته د انټرنېټ له لارې رسېدل محدود دي، یانې محدودو خلکو ته رسیږي.

په رسنیو یا سوشیل میډیا کې لکه مخکې چې ذکر شول کمپنۍ د دې رسنیو په مرسته مشتریان راجذب او جلبوي او تر خپل پوښښ لاندې یې راولي؛ ځکه نو هره کمپنۍ له دغو ادارو سره د ښو اړیکو د درلودلو هڅه کوي. مخابرات او معلوماتي ټکنالوژي په اوسنۍ نړۍ کې د اقتصاد مهم رکن دی. ځکه د دې په وسیله کولی شو، چې د خپل تولید برانډ، شکل، نمونه او د هغوی خصوصیاتو ته په کم وخت او کم لګښت سره خپل مشتریان خبر او راجلب کړو.

## سیگار: له طالبانو سره تر سولې وروسته به یې ډېری جنگیالي د نشه یي توکو کاروبار ته مخه کړي

د افغانستان د بیارغونې پلټونکې ادارې یا سیگار ویلي چې له طالبانو سره تر سولې وروسته به د دې ډلې ٦٠ زره جنگیالي بېکاره کېږي او یوازې کاري فرصتونه دوی له جګړې او مافیایي ډلو څخه را ګرځولی شي.



د سیګار ادارې مشر جان سوپکو ویلي: «په افغانستان کې بېکارۍ او ناوړه اقتصادي وضعیت ته په کتو سره دې جنګیالیو ته د کار زمینه نه ده برابره، د کولمبیا او سومالیا هېوادونو تجربو ته په پام سره به له طالبانو سره تر سولې وروسته، د نشه یي موادو قاچاق کوونکو ډېره برخه طالب جنګیالي د ځان ملګري کړي».

هغه ویلي، کله چې یو جنګیالی له جګړې څخه لاس واخلي او ټولنې ته را وګرځي، نو کار او وظیفې ته اړتیا لري، له دې پرته مجبور دی چې بېرته د جګړې ډګر ته ولاړ شي او یا هم په افغانستان کې له داسې ډلو سره یو ځای شي چې غیر قانوني عواید لري، تنظیم شوي جرمونه کوي، خلک برمته کوي او یا د نشه یي توکو قاچاق کوي.

د نوموړي په خبره، له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې مرستې ورځ په ورځ کمېږي، کله چې له طالبانو سره سوله کېږي، نو باید د امریکا حکومت او کانګرېس له افغانستان سره خپلې مالي مرستې ډېرې کړي، چې په دغه هېواد کې د مافیایي ډلو د پیاوړي کېدو مخه ونیول شي.

د سیګار د راپور پر بنسټ، دا مهال په افغانستان کې نږدې ٦٠ زره کسان د نشه یي توکو په کښت او کارخونو کې کار کوي چې ډېره برخه یې ځوانان دي.

په ورته وخت کې افغان شنونکي وایي چې نشه یي توکي یوه نړیواله ستونزه ده، نو باید د سیمې او نړۍ په کچه مبارزه ورسره وشي.

د سیاسي چارو شنونکی امین الله شارق وایي: «د نشه یي موادو موضوع په سیمه او نړۍ پورې اړه لري. دا موضوع اوس یوازې په افغانانو پورې اړه نه لري، بلکې د سیمې مافیایي ډلې او ان دا چې بهرنۍ استخباراتي ډلې هم ګټه ځنې اخلي. د نشه یي موادو موضوع ډېره سخته او پېچلې ده، ځکه چې په دې کاروبار کې ډېر خلک دخیل دي. کله چې سوله او امن راځي او دولت غښتلی کېږي، نو طبیعي خبره ده چې دولت دې کار ته اجازه نه ورکوي، دا ډلې به دولت ته ستونزې پیدا کوي».

بلخوا افغان حکومت او ځینې نورې نړیوالې ادارې ادعا کوي، چې د افغانستان ډېری کوکنار د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې کرل کېږي او دې ډلې یې کښت او تولید ته زمینه برابره کړې ده، خو طالبانو تر دې وړاندې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره د نشه یي توکو په کاروبار کې لاس لرل رد کړي دي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








یکشنبه د ۱۳۹۸ د تلې اوومه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۲۹مه | ۴۳۵مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۳ | لمر ختل ۰۵:٤۵ | ماسپښین ۱۱:٤۵ | مازدیگر ۰۳:۰۹ | ماښام ۰۵:٤۳ | ماخوستن ۰۷:۰۷

## نړۍ



## عمران خان: د کشمیر روان وضعیت د هند او پاکستان ترمنځ د اټومي جګړې لامل کېدای شي

۳

## د مصر پوځ: په سینا ټاپو کې ۱۱۸ ترهګر وژل شوي دي



د مصر پوځ اعلان کړی چې د دغه هېواد په سینا ټاپو کې د امنیتي ځواکونو په تازه عملیاتو کې ۱۱۸ ترهګر وژل شوي او په لسګونه میله وسلې او مهمات یې له منځه وړل شوي دي.

د اېسنا خبري اژانس د راپور له مخې، د مصر دفاع وزارت په خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې هوایي ځواکونو په سینا ټاپو کې ۱۱۸ ترهګر وژلي او د دوی ۳۳ پټنځایونه، اووه زرهي موټرونه او په لسګونو میله وسلې له منځه وړې دي.

په اعلامیه کې راغلي، چې دغه عملیات په ناارامې ټاپو سینا کې له څو ورځو راهیسې پیل شوي چې له ترهګرو څخه پکې مهمې سیمې نیول شوې او درنه مرګ ژوبله ورته اوښتې ده.

د سرچینې په خبره، د دغو عملیاتو له پیله تر دې دمه په سیمه کې په سلګونو کړی ماینونه او تونلونه هم له منځه تللي دي.

د مصر پوځ وروسته له هغې په دې سیمې کې پوځي عملیات پیل کړي، چې د دغه هېواد په لویو ښارونو کې امنیتي پېښې زیاتې شوې دي.

د یادونې ده چې سینا ټاپو د مصر په شمال کې پرته ناامنه سیمه ده، چې د داعش په ګډون پکې د ډېرو نورو ترهګرو ډلو مرکزونه موجود دي.

## هندي چارواکي: له یوې اونۍ راهیسې د هند په شمال کې سېلابونو ۵۹ کسان وژلي دي



هندي چارواکو ویلي، له تېرې یوې اونۍ راپدېخوا د دغه هېواد په شمال کې د سختو اورښتونو او سېلابونو له امله، لږ تر لږه ۵۹ تنه مړه شوي دي.

په هند کې له بېړنیو پېښو سره د مبارزې اداري ویاند سندهایا کوریل ویلي، چې یاد کسان تر ډېره د کورونو د نړېدو، تالانده، برېښنا او په سېلابونو کې د غرق کېدو له امله مړه شوي دي.

دغه هندي چارواکي ویلي، چې د مرګ ژوبلې زیاته برخه د هند د اتراپردیشت په ایالت کې رامنځته شوې ده.

د چارواکو په خبره، لږ تر لږه خلورو تنو په دغو سېلابونو کې د مار چیچلو له امله ساه ورکړې ده.

هندي چارواکو دغه راز ویلي چې د دغه ایالت په ځینو برخو کې د پنجشنبې او جمعې په ورځو، د اورښت حجم ۱۹ سانتي متره و.

له تېرې جون میاشتې راپدېخوا بیا تر دې مهاله په هند، نیپال او بنګله دېش کې د موسمي اورښتونو له امله ۳۵۰ تنه وژل شوي.

د یادونې ده چې هند یو له هغو هېوادونو دی چې هر کال په کې د درنو اورښتونو او سېلابونو له کبله، په سلګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوړي.

## تیفا: ۹۸ درصد مراکز رایدهی، دیروز در وقت تعیین شده باز بود




یافته های بنیاد انتخابات شفاف افغانستان، نشان می دهد که ۹۸ درصد مراکز رایدهی، دیروز در وقت تعیین شده باز بود، نیروهای امنیتی ۹۹.۵ درصد مراکز رایدهی باز، حاضر بوده و ۹۸.۸ درصد کارمندان به وقت مشخص، در محلات رایدهی حضور داشته اند.

در خبرنامۀ مطبوعاتی بنیاد انتخابات شفاف افغانستان(تیفا) که به رسانه ها فرستاده شده، آمده است که این نهاد با داشتن ۵۲۰۰ ناظر مستقل، بی طرف، مسلکی و آموزش دیده از ساعت ٦:۳۰ صبح دیروز نظارت خویش را از پروسه بازگشایی مراکز رایدهی با در نظرداشت قوانین کشور و معیارهای بین المللی در ۳٤ ولایت افغانستان آغاز نمودند.

منبع نوشته است که کارکنان تیفا، در مرکز و ولایات با ناظرینش تماس دوامدار داشته و جزئیات ابتدایی از مراکز رایدهی را جمع آوری کرده اند.

در ادامۀ خبرنامه آمده است که به اساس نظارت ناظرین تیفا، نمایندگان کاندیدان و احزاب سیاسی و نهادهای ناظر بر انتخابات ۹۳ درصد محلات رایدهی حضور داشته اند.


به اساس یافته های تیفا، ۹٦.۸ درصد محلات رای دهی، مواد حساس و غیر حساس انتخاباتی بصورت تکمیل وجود داشته است؛ ۹۸.۹ درصد محلات رایدهی، دستگاه های بایومتریک موجود بوده است.

منبع همچنان افزوده است که ناظرین تیفا، نظارت خود را از گشایش مراکز رایدهی، ساعت ٦:۳۰ صبح در ۳٤ ولایت افغانستان آغاز نمودند؛ اما در ۲ درصد مراکز رایدهی در ولایاتی مانند فاریاب، هرات، کنر و غور در اوایل گشایش مراکز، اجازۀ نظارت به ناظرین داده نشد.

به نقل از خبرنامه، نبود کارمندان مراکز و محلات در وقت تعیین شده، مشکلات و تهدیدات امنیتی، نرسیدن مواد حساس و غیره به مراکز رای دهی، از دلایل عمده در تاخیر بازگشایی مراکز می باشند.

## ژوند

## څه د غذایي مسمومیت لامل کېدای شي؟



### ۱-باکټریاوې

باکټریاوې د غذایي مسمومیت تر ټولو لوی او اصلي لامل بلل کېږي، چې ځینې خطرناکې یې له ای کولای، لېسټریا او سلمونلا څخه عبارت دي. په امریکا کې بیا د غذایي مسمومیت تر ټولو لوی لامل د سلمونلا باکټریا په ګوته کېږي. د څېړنو له مخې، په نورو هېوادونو کې هم د یو میلیون غذایي مسمومیتونو اصلي لامل د سلمونلا باکټریا ښودل شوې ده.


### ۲-کوچني چینجي

له باکټریاوو وروسته کوچني چینجي، هغه چې په سترګو سم نه لیدل کېږي او په تېر وختې ډوډۍ کې پیدا کېږي، د غذایي مسمومیت لامل کېدای شي. تر ټولو پېژندل شوی یې توکسوپلازما نومېږي چې په نړۍ کې د ډېری غذایي مسمومیتونو لامل بلل کېږي. دغه خطرناک چینجي د انسان د هاضمې په سیستم کې ځای نیسي، پرته له دې چې هلته یې انسان پر ژوند کولو پوه شي.

### ۳-ویروسونه

کېدای شي ویروسونه هم د غذایي مسمومیت لامل شي. (نورو ویروس) چې په نورواک ویروس هم پېژندل کېږي، هر کال د ۱۹ میلیونو انسانانو د مسمومیت لامل کېږي. که یې پر وخت درملنه ونه شي، د انسان د مړینې لامل هم کېږي. ساپو ویروس، روټا ویروس او استرو ویروس هم د غذایي مسمومیت لامل کېدای شي، خو ډېر خطرناک نه بلل کېږي.

## ورځ مو په مثبت ذهنیت پیل کړئ



نن یوه ډېره په زړه پورې ورځ ده. دا هغه ورځ ده چې زما د بریا لپاره پیدا شوې ده. د خپلې راتلونکې لپاره تلوار لرم او نن به له ډېرو ښو پېښو سره مخ شم او ښې لاسته راوړنې به ولرم.

ورځ مو د ستونزو پر یادونه مه پیلوئ. دې ته هم باید په تمه نه وی چې وګوری نننۍ ورځ ښه ده که بده؟

کله چې سهار وختي له خوبه پورته کېږئ، په اخبار کې منفي خبرونه مه لولئ او د هوا حالات هم مه ګورئ. ذهن مو په مثبت او سم لوري متمرکز کړئ. نن به ستاسې لپاره یوه ډېره په زړه پورې ورځ وي، خو په دې شرط چې ذهن مو په سم لوري رهبري کړی.

کېدای شي دښمن درته ووایي چې نن به څه بده او ناوړه ورځ وي. څومره ډېرې تېروتنې به درنه وشي. که مو دا ډول فکر وکړ، هغه ده چې هرڅه به مو پر خلاف ودرېږي. کېدای شي هوا خوند درنه کړي، په ښه موټر کې سپاره نه شی، په چوکۍ کې له ښه کس سره برابر نه شی او نورې بدې پېښې. په دې مانا چې ټوله ورځ به مو له خپګان څخه ډکه وي.